## Bبرخه: د یوه ښه رهبر یا مشر وړتیاوي او شرطونه

### دوهم لوست: د دنني ارزښت تشخیص او تعریف

**دزده کونکو دزده کړي موخي یا هدفونه**
**په دي لوست کې هدایات او لارښوني باید د زده کونکو لپاره د لاندې موخو د قبولیت او فهم سبب شي.**

1. د دنني ارزښت تعریف او تشخیص
2. د شخصي ارزښتونو تشخیص
3. په ژوندانه کي د شخصي ارزښتونو د ګټو تشخیص

## د لوست ورکولو لپاره توصیه شوی وخت.

منابع یا زیرمي:

Simon, Sidney B., et al. Paperback Values Clarification: A Handbook of Practical Strategies for Teachers and Students. New York, New York: Dodd Mead, 1978.

## دلوازمو، وسایلو او ضرورت وړ موادو لست:

- د لیکني نما(تخته)
- د پاورپواینټ پروجکتور
- د پاورپواینټ سلایدونه
- د خلکو انځورونه
- د زده کونکو د کاري ورقو کاپي
- حساب ماشین
- پډ تولګي د زده کونکو دشمیر مطابق د نومونو پاکټ(یودانه)
- مارکر ونه( توشونه )
- پنسل
- پوستر
- نیونکی یا قیتک

## اصطلاح ګاني: لاندې اصطلاح ګاني په دي لوست په بولډ اوایتالیک شکل سره وړاندې شوي دي.

- **ارزښتونه**
- **واضع او روښانه ارزښتونه(ارزښتونو ته روښانه ځای ورکول)**

## د لاسرسيدنې ګټې :

د ټولګی هريو زده کونکی ته دپوسټريوه ټوټه، پنسل او مارکر توزيع کړئ. آيا زده کونکو کاري ساحه روښانه کړی ده. هغو په ښه توګه کولی شي چي د پوستر په ورقه کي يورسم وکاږي د فعاليت د سرته رسولو په وخت کي، د شميرمطابق ورته د حساب ماشينونه، اړين کيدلي شي ترڅو له هغوي سره مرسته وکړي. د تختې په شاوخوا کي قدم ووهي اويوه لويه دايره انځور کړئ.

**د ښووونکی لپاره دستورالعمل**: داسې دايره چي ستاسی ژوند يوه اونی وړاندې کړي. د دې دايري په مطابق تاسي يوبله هم د پوستر په کاغذ کي انځور کړئ. او وروسته داسې دايره د شعاع په شمير تقسيم کړئ چي د ټولو فعاليتونو بيانونکی وي کوم چي تاسو په دي اونی کي سرته رسولي دي. د ساعتونو اندازه، او يا دهغه دقيقو اندازه چي تاسې د هريو فعاليت لپاره تير کړي دي، تخمين او يا آټکل کړئ. په فعاليتونو کي بايد خوب کول، ښوونځی، کار، کورنی کار، د کور کارونه، تير کړل شوی وخت د کورنی له غړو او له دوستان سره تير شوی وخت په کي شامل وي. ستاسي آټکلونه شايد چي درست دقيق نه وي ولي بايد ۱٦۸ ساعته په هره اونی کې بشپړ کړئ. کوښښ وکړئ چي نظرد فعاليت شميرته مو دايره تقسيم کړی.

تاسې ددې فعاليت د بشپړ کولو لپاره تقريباً ۲۵ دقيقي وخت لرئ شروع.
کله چي زده کونکو رسم انځور کړ، د ټولګي په شاوخوا کي قدم وهئ ترڅو خپل ځان اطمناني کړئ چي زده کونکي د فعاليت په سرته رسولو کي دي ترڅو په ټاکل شوی وخت کي فعاليت تکميل کړي. تاسې بايد د حساب ماشين له خپل ځان سره ولرئ شايد زده کونکي له تاسو نه سوالونه ولري،
دوه نيونکي(قيتکونه) هريو زده کونکی ته توزيع کړئ چي د هغې پواسطه خپل پوسټرونه د ځان سره نژدي ځوړند کړي. د تمرين په پای کي لاندي سوالونه په تخته داسی وليکئ چي زده کونکي وکولی شي هغه ولولي. آيا هغوي د دايرې د شعاع له شمير سره موافق دي؟
تقريباً څو شعاع به ستاسې دايره وي؟ داسې سوالونه په پوستر کي وليکئ ترڅو تاسې سره په يادولو کي مرسته وکړئ. په پای کي ۲۵ دقيقي لاندې موارد وړاندي کړئ.

**د ښووونکی لپاره دستورالعمل**: پوسترونه د خپل ځان سره نژدي په ديوال کي ځوړند کړئ او وروسته خپل ځای ته نژدي دور وخورئ او له هغوي سره په خبرو کولو پيل وکړئ او لاندې سوالونه له هغوي نه پوښتنه وکړئ آيا د شعاع اندازه مو قبوله ده؟ د هري يو دايري لپاره څومره لويوالی په نظر کي لرئ؟ آيا ددي غوښتونکي ياست چي هره يوه شعاع تبديله شي؟ داسې سوالونه په پوسترکي وليکئ ترڅو له تاسې سره په يادولو کي مرسته وکړي. د پوښتنې او ځواب کولو لپاره پنځه دقيقي وخت لرئ

# د محتوياتو لنډيز او د لوست ستراتيژۍ:

## لومړی موخه يا هدف: د دنني ارزښت تعريف او تشخيص

آټکل شوی پوښتنه:دنني ارزښتونه کوم دي؟

**د ښووونکی لپاره دستورالعمل**: تيرشوی تمرين مونږ ته يوازې د وختونو تيريدل په اوني کي ښايي، بلکه دا بيانوي چي مونږ خپل وختونو ته په څه ارزښت قايل شوي يو، راځي چي څو راتلونکي دقيقي د ارزښتونو د تعريف لپاره، او دا چي په څه ډول مونږ کولی شو هغه درک کړو تيري کړو.

د ارزښت، ارزښتونو تعريفونه روښانه شوي په تخته کي ليکل شوي او يا ۲-۲ او Tm 2-1 زده کونکو ته وښاياست. چي دداسي فعاليت لپاره پنځه دقيقي وخت لري.

**1. د ارزښت تعريف:**
**(د پاورپواينټ ۲ شميره سلايد)**

A. د هغه شيانو ارزښت چي مونږ په هغې باندې بشپړ باور لرو مونږ هغه تبديل او پرتله نه کوو.

1. ارزښتونه يا مقام په کم عمر کي تشکيل کيږي.
2. والدين ، استادان، دوستان ، مذهبي مشران او قهرمانان له مونږ سره د ارزښت په تشکيل کي مرسته کوي.
3. ارزښتونه د وخت په تيريدلو سره کولی شي چي تبديل شي داسي چي تجربي په ژوندانه کي بدليږي.

**( د پاورپواينټ ۳ شميره سلايد)**

B. دارزښتونو روښانه کول يا واضع کول: ددي بيانونکي چي له ارزښت نه په کوم حالت کي قرار لري نه دی بلکه له مونږ سره مرسته کوي ترڅو هغه درک کړو.

1. ارزښت او مقام بايد په ازادانه توگه وټاکل شي.
   a. د حل د لارو پواسطه د ارزښت پيژندگلو.
   b. د حل د لارو هري يوي د معني او نظرياتو په باره کي له فکر نه وروسته.

2. ازرښت او مقام ته بايد نوازش ورکول شي.
   a. له ټاکني څخه خوښ او راضي کيدل
   b. اظهار(بيانول) د عامو(خلکو) لپاره شخصي انتخاب

3. ارزښت د لاس عمل کولو ته سپارل
   a. د ارزښت دټاکني سره يوځای شيان د هغې پواسطه سرته رسول.
   b. د زړه په خوښه د ټاکني تکرار کول.

## دوهمه موخه يا هدف: د شخصي ارزښتونو تشخيص

## آټکل شوی پوښتنه: شخصي ارزښتونه کوم دي؟

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل:** د هغه ليکنو په اړه چي په کاغذ کي يي لری فکر وکړئ. کوم شيان مو ټاکلي دي؟ولي مو ورته نوازش ورکړی دی؟ او کوم يو مو سرته رسولی دی؟د هغه ځوابونو سره چي وبه يي لری لاندې بياني د يو ځواب په ليکلو سره د هري يوي په مخامخ تکميل کړي.
ددي فعاليت د سرته رسولو لپاره ٥ دقيقي وخت لری.
لاندې بياني په تخته وليکئ او يا Tm 2-3 هغوي ته ښکاره کړئ.

**(د پاورپواينټ ٤ شميره سلايد)**

زمونږ د ارزښتونو توانايي او ښيگڼي

A. هره يوه بيانيه بشپړه کړئ

1. زه دي ته ترجيح ورکوم چي څۀ شی د ځان لپاره وساتم چي عبارت دي له...............

2. زه به دا موضوع یوازې په دوستانو تقسیم کړم چې.......................
3. زه به هغه درجه اختیار کړم چې په زړه پوري د ...............................................
4. زه بحث او خبري اترې ولرم په باره د ................
5. زه د فزیکي جنګ غوښتونکی یم د پاره د ...................

له دوه یا دري زده کونکو څخه د معلوماتو د تقسیم لپاره پوښتنه وکړئ.

**د ښوونکی لپاره دستورالعمل**: دا فعالیت به له تاسي سره په څه ډول مرسته وکړي ترڅو خپل شخصي ارزښت مو وپیژنی؟

دا فعالیت به ستاسې لپاره څومره ستونزمن وي؟ آیا داسې فعالیت له تاسې سره د نهاي ارزښت(ستاسي دنني) په پیژندګلوکې مرسته کړی ده؟

## دریمه موخه یا هدف: په ژوندانه کي د شخصي ارزښتونو ګټي او فایدي

## آټکل شوی پوښتنه:په ژوندانه کي شخصي ارزښتونه کوم دي؟

ټول زده کونکي تختې ته وغواړئ او ارزیابې یي کړئ چي په څه ډول زمونږ ټاکنې نظر د نورو ارزښتونو ته هدایت او لارښوونه کوي؟

زده کونکي په دي مجبوردي چي ځوابونه په خپلو کتابچو کي ولیکئ.

III. راځئ چي د ټولګي اخري لحظي ددي ارزیابی په خاطر چي په څه ډول زمونږ ټاکني د هغې د ارزښتونو سره نورو ته هدایت او لارښوونه کوي ،

IV. یوه ټاکل شوی لاره شایدچي په لاندې توګه سره وي.

A. د سګرټ د نه څښلوټاکنه، هغه وخت چي دا موضوع له نورو سره شریکوو. هغوي باید دسګرټ په نه څښلوباندې معتقد کړو

B. بل لاره عبارت ده له ................................................

تاسي څو نورو بیلګو ته اړین یاست ترڅو چي زده کونکي معني په صحیح توګه درک کړي.

**د لوست تکرار او لنډیز** : د پاورپواینټ له ٥ شمیرسلاید څخه د لوست د تکرار لپاره استفاده وکړئ آیا زده کونکو ارزښت تعریف او تشخیص کړی دی، آیا ارزښت یي روښانه کړی دی؟او آیا شخصي ارزښتونه یي پیژندلي دي؟ ځوابونه باید چي په لوړ آواز سره بیان کړل شي

**د کارکوني موارد** : یو شخصي نظر مطابق هغه ارزښت ته چي اوس مو مطالعه کړکمپوز یا جوړ کړئ او هغې ته په یوه پاکټ کي ځآی ورکړئ او په یومحفوظ ځآی کي یي واچوئ. پاکټ هر پنځه کاله وروسته، یو واري مطالعه کړئ او هغه موارد چي باید تغیر کړل شي او هغه موارد چي باید سرته ورسول شي په نظر کي ونیسئ.

**ارزیابی**: ددي لوست د موخو یاهدفونو د قبولیت او فهم موجب وي د زده کونکولپاره چي د زده کونکو لپاره یوه په لیکلي بڼه د امتحان نمونه ورسره پیوسته ده.

## د پوښتنو د ځواب بیلګه

لومړی برخه درست(صحیح) او غلط.

1. غلط
2. غلط
3. غلط
4. صحیح
5. غلط

دوهمه برخه:لنډ ځوابونه

6. هغه ځوابونه چي د ټولګي په مخ کي ویل شوي دي، هغه ارزیابي کړئ.

**نوم:...................................**

## د دنني(نهايي) ارزښتونو تعريف او تشخيص

لومړۍ برخه:صحيح او غلط
هره بيانيه ولولئ او هره يوه روښانه کړئ چي درسته ده او يا غلطه. د هري يوي په مخ کي درسته او غلطه وليکئ.

1. ارزښتونه د پرتلې يا مقايسي وړ دي
2. ارزښت د وخت په تيريدو سره د تجربو په اساس نه بدليږي.
3. د ارزښت روښانه کول دارزښت د حالتونو بيانونکی وي.
4. ارزښتونه نظرد لارو په ټاکنه، په ازادانه توګه صورت نيسي.
5. زمونږ ارزښت په لس کلنۍ کي شکل نيسي.

دوهمه برخه:د اړتيا وړ اصطلاح ګاني د ځواب د ورکولو په خا طرتهيه کړئ.

6. زمونږ د ارزښتونو په اساس پنځه ټاکل شوي لاري، چي نورو ته به هدايت او لارښوونه وکړي، لست کړئ.

# ارزښتونه

- هغه شیان چي مونږ په هغې باندې بشپړ باور لرو، هغه شیان چي مونږ هغه  تبدیل او مقایسه یا نه پرتله کوو.

- ارزښتونه یا مقام، په کم عمر کي شکل او یا تشکیلیږي.

- والدین ، استادان، دوستان ،مذهبي رهبران یا مشران او اتلان د ارزښت په تکیل کي له مونږ سره مرسته کوي

- ارزښتونه د وخت په تیریدو سره کولی شي چي تبدیل شي داسې چي تجربي په ژوندانه کي تبدیلیږي.

# د ارزښتونو واضع(روښانه)کول

- د دي بيانونکي چي ارزښت په کوم حالت کي ځآی لري، نه دي بلکه له مونږ سره مرسته کوي ترڅو هغه درک کړو .

- ارزښت او مقام يا منسب بايد په ازادانه ډول سره وټاکل شي.

  - له وړاندې لارو څخه د يوي لاري پواسطه د ارزښت پيژندګلو
  - د نظرياتو او معناوو هر يو له دوه لارو نه د نظرياتو او معناوو په باره کي فکر کولو نه وروسته

- ارزښتونه بايد ونازول شي

  - له ټاکنې يا انتخاب نه راضي او خوښيدل
  - (بيانول) د عامو لپاره شخصي انتخاب يا ټاکنه(خلک)

- ارزښتونه بايد عملي کړنې ته وسپارل شي

  - له ټاکنې سره يوځای، بايد فعاليتونه ولرو.
  - له زړه څخه انتخاب يا ټاکنه تکرار کړو

# د خپلو ارزښتونو توانايي او ښيګڼي

**لاندې بياني بشپړي کړئ**

- **زه دي ته ترجيح ورکوم کوم شي چي د ځآن لپاره خوښ کړم هغه عبارت دی له.....**
- زه به يوازې له دوستانو سره هغه موضوع تقسيم کړم چي عبارت ده له .......................
- زه به هغه درجه غوره کړم چي په زړه پوري وي لپاره د ..................................
- زه به بحث او وينا ولرم په باره د ..................
- زه د فزيکي جنګ غوښتونکی يم لپاره د ...........................